مصطفی پسرلی

۲۰۱۷/۰۲/۱٤

# غـزل
## د هلمند غــم




لکه ړانـده داســي بیځـایـه قدمونه آخلو

مرګ راپسې دی د اجل خواته ګامونه آخلو

د انسانیت پـه تندي اوس هغه ځلا نه وینم

چرته بې وسه وي د هغو تصویرونه آخلو



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

اوس دمطرب پدې سازو کې هغه خوند نشته دی
د آزادئ یو څو نغمو ته ښه سازونه آخلو

درد مو زیاتیږي او خیالونو بغاوت کړی دی
دې ویش احساس ته د پردیو ځنځیرونه آخلو

له ټول وطن نه ورته خپل ژوندون مهم ښکاریږي
داسې واکمنو ته له کومه ضمیرونه آخلو؟

د گناهونو په لار درومي جنتونه غواړي
داسې تور زړونو ته ځلانده مشالونه آخلو

اې پسرلیه! ستا غزلو کې ستا اوښکې وینم
له هرغزل نه دې خپلواکه پیغامونه آخلو

***************
*************
***********
*********
*******
*****
***
*